# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## وزه، سپی او غوا / Goat, Dog, and Cow

✎ Fabian Wakholi
Marleen Visser, Ingrid Schechter
Darakhte Danesh (ps)

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

## وزه، سپی او غوا

## Goat, Dog, and Cow

✎ Fabian Wakholi
Marleen Visser, Ingrid Schechter
Darakhte Danesh

2

پښتو ps / English en

وزه، سپی او غوا ډېر ښه ملکري وو. یوه ورځ هغوی په یوه ټکسي کې په سفر تلل.

. . .

Goat, Dog, and Cow were great friends. One day they went on a journey in a taxi.

کله چې د هغوی سفر پای ته ورسیده،
موټرچلوونکی له هغوی څخه کرایه وغوښتله. غوا
خپله کرایه ورکړه.

. . .

When they reached the end of their journey, the driver asked them to pay their fares. Cow paid her fare.

سپي غټې روپۍ (لوټ) ورکړې ځکه چې له هغه
سره ټاکل شوې اندازه روپۍ نه وې.

. . .

Dog paid a bit extra, because he did not have the correct money.



او غوا د موټر په ليدو سره هېڅ ستونزه نه لري او
سړک څخه په تېريدلو کې هم بېړه نه کوي، ځکه
چې هغې خپله کرايه بشپړه ورکړې وه.

. . .

And Cow is not bothered when a car is coming. Cow takes her time crossing the road because she knows she paid her fare in full.

وزه د موټر دغږ په اورېدو سره لرې تښتي او دا ویره
لري چې د کرایې نه ورکولو له امله به ونیول شي.

. . .

Goat runs away from the sound of a car. She is afraid she will be arrested for not paying her fare.



موټر چلوونکي غوښتل چې سپي ته پاتې شوې
روپۍ بېرته ورکړي خو په همدې وخت کې وزې
پرته له کرایه ورکولو منډې کړې او لاړه.

. . .

The driver was about to give Dog his change when Goat ran away without paying anything.

موټر چلوونکي د وزې له دغه عمل څخه ډېر خواشینی شو او پرته له دې چې د سپي پاتې شوې روپۍ ورکړي وتښتېده.

. . .

The driver was very annoyed. He drove away without giving Dog his change.



نو د همدې امله نن سبي د موټرو پسې منډې وهي چې دننه وګوري او هغه موټرچلوونکی چې روپۍ يې ورسره پاتې دي ومومي.

. . .

That is why, even today, Dog runs towards a car to peep inside and find the driver who owes him his change.